# په جنوبي وزیرستان او بنو کې کامیاب عملیات د ۶ تنه ترهګر ووژل شول

د پټو معلوماتو پر اساس د جنوبي وزیرستان په زنګاړه او د بنو په نورر سیمه کې امنیتي ځواکونو بریالي عملیات کړي، چې په ترڅ کې یې شپږ ترهګر وژل شوي او امنیتي ځواکونو ته کوم زیان نه دی اوښتی۔

**د تفصیلاتو له مخې، امنیتي ځواکونو د ترهګرو د شتون د راپور په اساس په دوو بیلابیلو عملیاتو کې د ترهګرو د پټنځایونو مرکزونه محاصره کړل۔ دجنوبي وزیرستان په زنګاړه سیمه کې دترهګرو قادر زمان اؤ سلمان خان په ګډون درې نور ترهګر وژل شوي اؤ تیره ورځ دبنو په نورر سیمه کې دترهګر اسماعیل عرف خطاب په ګډون درې نور ترهګر وژل شوي دي۔**

امنیتي ځواکونه د ټي ټي پي خوارج په ضد ګهیرا تنګا کړي ده او ځایي خلک امنیتي ځواکونو ته د ترهګرو د موجودیت په اړه خبر ورکولو سره خپلې سیمې له ترهګرو پاکوي۔